# د انسان د غړو په هر بند صدقه ده

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «د انسان پر هر بند صدقه ده، هره ورځ چې لمر راخېژي، د دوو کسانو ترمنځ جوړجاړی کول صدقه ده، د يو چا سره د هغه پر څاروي بارولو کې مرسته کول، چې پرې سپور شي او يا يې ورسره په بارولو کې مرسته وکړي صدقه ده. ښه او خوږه خبره صدقه ده. هر قدم چې ته يې جومات ته د لمانځه لپاره اخلې صدقه ده او د لارې نه د ضررې شي لرې کول هم صدقه ده».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې هر مسلمان هره ورځ مکلف دی چې د خپلو هډوکو د بندونو د شمېر په اندازه صدقه ورکړي چې شکر يې ادا کړي او دا چې روغ يې پيدا کړی او هډوکي يې ورته داسې پېدا کړی چې هر يو بند يې بندولی او خلاصولی شي، دا صدقه د ټولو نېکونو کارونو په ترسره کولو سره ادا کيږي او د مال ورکولو سره تړاو نه لري لکه: د دوو شخړه کوونکو تر منځ روغه او جوړه کول صدقه ده، او دا چې د يو کمزوري سره په سپرلۍ سپرېدلو کې مرسته وکړې او يا يې ورسره بار کړې، نو دا ستا لپاره صدقه ده، او نېکه وينا صدقه ده لکه: ذکر، دعا، سلام او داسې نور، او هر قدم چې د لمانځه په لور يې اخلې صدقه ده، او د لارې څخه د ضررې څيز لرې کول صدقه ده.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee